بسم الله الرحمن الرحيم

## د امريکا او سعودي اړيکه؛ د کورونا تر چتر لاندې د تېلو جګړه

## (ژباړه)

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، امريکا د نړيوال نظام د جوړولو په لټه کې شوه؛ چې له سياسي پلوه يې همتړونه هېوادونه او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا جوړه کړه. دغه راز له اقتصادي پلوه يې د بريټون ووډز تړون، د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک جوړ کړ. وروسته امريکا خپل لوی رقيب شوروي اتحاد ته قناعت ورکړ، چې فرانسه او انګليس له خپل استعمار څخه، چې پخوانۍ نړۍ نومول کېده، خلاص کړي، د امريکا ګټې خوندي کړي او روسيه د شرقي اروپا په هېوادونو پورې منحصره شي.

وروسته امريکا دې پايلې ته ورسېده، چې په ۱۹۷۱م، کې له بريټون وودز تړون څخه ځان وباسي او د طلا پر ځای، ډالر د نړيوال پولي واحد په توګه وټاکي؛ څو د ډالر په وسيله د تېلو سوداګري په خپله ولکه کې وساتي وروسته ولسمشر «ريګن» په ۱۹۷۱م، ډالر له ټولو قيدونو ازاد کړ؛ تر هغې کچې چې د امريکا د پانګې کچه، د امريکا د اقتصادي پرمختګ په پرتله څو برابره زياته شوه. له ۳ تر ۸ سلنه يې اقتصادي پرمختګ درلود او نقدې پيسې يې ٪۵ لوړې شوې، چې د پانګې او اقتصادي پرمختګ تر منځ يې هېڅ نسبت او تناسب نه و.

له طلا څخه د ډالر بېلوالی له يوه اړخه او له اقتصادي پرمختګ څخه يې ازادي له بله اړخه، د فرضي او ګوماني اقتصاد د رامنځته کېدو لامل شوي، چې د مال په مقابل کې نه جنس، نه توليد او نه هم کوم خدمت شته. امريکا له دغو کړنو په استفادې، نړۍ د پيسو، پانګې او سوداګرۍ پر لور بوتله او ټول هېوادونه د دغې طرحې منلو ته اړ بولي، چې سوداګري بايد په ډالر وي، په ځانګړې ډول انرژي او تېل. امريکا له دې ګټه تر لاسه کوي، چې په ډېری هېوادونو کې کاروبار په ډالر ترسره شي.

امريکا له خپل نفوذ څخه ګټه واخيسته، څو «اوپک سازمان او آرامکو شرکت» چې سعودي يې غړی دی، په خپله ګټه وکاروي او د تېلو نړيوالې سوداګرۍ د بازار له تشې په استفادې، کولی شي بيې، خدمتونه او اړتياوې کنټرول کړي.

د کورونا بحران د تشې پر مهال د تيلو تقاضا کمه شوه، په ځانګړې توګه د چين له اړخه، چې د نړۍ د توليد شوو تېلو ٪۲۰ پلوري. امريکا او مزدور يې (سعودي) هڅه وکړه، څو د تېلو د توليد په راکمولو سره يې بيه وساتي. خو روسيه چې د «اوپک» سازمان غړې نه ده، د تېلو د توليد راکمول رد کړل او ګومان کوي، چې د تېلو زيات توليد د اقتصادي پرمختګ راکمولو مخه نيسي. امريکا او سعودي په دې برخه کې له يوبل سره تړون لري. دغه راز د ټرامپ خبره رانقلوي او وايي، چې موږ د سعودي او روسيې تر منځ د شخړې حل غواړو. امريکا له يوه اړخه غواړي، چې د توليد کچه، د بيې تر راټيټېدو پورې لوړه کړي، څو دروند بار د روسيې پر اوږو ورولوېږي. روسيې اعلان کړی، چې د سعودي زيات توليد زيان نه ورته رسوي ان د روسيې د انرژۍ وزير د تېلو د بيې د خرابېدو د مخنيوي غوښتنه وکړه.

سربېره پر دې، رسنيو داسې خبر خپور کړی، چې امريکا هڅه کوي د سعودي او امريکا تر منځ د تېلو تړون لاسليک کړي او د اوپک سازمان له منځه يوسي. امريکا په مستقيمه توګه او د سعودي له رهبرۍ پرته د تېلو اداره په خپل لاس کې اخلي. شايد امريکا له دغې چانس څخه د تېلو په اړه لاندې ستراتيژيکې کربنې وکارېږي:

۱- پر سعودي عربستان د ولي عهد محمد بن سلمان کامل تسلط، له امريکا سره د مينې او اړيکو په خاطر دی.

۲- په لوړه کچه د تېلو د بيې بحراني کول، چې اوسمهال هم بحراني ده او د تېلو د بازار د راټيټېدو وېره ده، څو نور د تېلو لرونکي هېوادونه هم له امريکا سره دې ډول تړون ته وهڅوي.

۳- د کورونا ويروس له امله د نړۍ په ځانګړې توګه اروپا بوختيا او وارخطايي، دا امکان رامنځته کوي چې هغوی هر ډول سياسي او اقتصادي کړنې ته تيار شي.

امريکا چې د کوم پلان په هڅه کې ده، ياد مو کړ، په ۱۹۷۳م، کې د مصر او سوريې تر منځ جګړه له يوه اړخه او له يهودو سره له بله اړخه، له ملک فيصل سره يې دا ډول چلن وکړ؛ کله چې فيصل د دې نيت وکړ، چې اروپا ته د تېلو د وړلو جريان موقتاً راکم کړي، بيه يې لوړه شوه. هغه څه چې امريکا د طلا او ډالر د بېلوالي لپاره وټاکل، د دې لامل شول، چې کاروبار او سوداګري په ډالر شي. خو په دغه پړاو کې غشي پر ځای نه و لګېدلی، د بيې د لوړېدو پر ځای برعکس د تېلو بيه راکمه شوه او صادر کوونکي هېوادونه يې اړ کړل، چې د خپلې ګټې لپاره په هره بيه چې وي، معامله وکړي.

حقيقت دا دی، چې نړېوال حالت د ټرامپ د تقاضا او سياست برعکس دی. شايد د نړۍ د تېلو په سياست کې د پام وړ تغيرات رانشي. کورونا ويروس د اقتصادي او مالي نظام د ويجاړۍ لامل ګرځي. لکه څنګه چې د نړۍ ډېری حکامو له خولې، د نړۍ نظم او کلي تغيراتو په اړه خبرې اورېدل شوي دي. په لوړه کچه د تېلو د تقاضا راټيټېدل، هغه که د چينايي شرکتونو د درېدو او يا هم د لېږد رالېږد وسايلو د درېدو او په نړۍ کې د انرژۍ د نه لګښت له امله وي. تمه ده چې د خپل زيان د خسارې لپاره د تېلو بيه لوړه نه کړي.

هغه تېل چې ټرامپ او د سعودي ولي عهد په ولکه کې نيولي، د اسلامي امت ملکيت دی. دا روا نه ده، چې د اوسنيو نظامونو په ملاتړ په مختلفو ډولونو وګومارل شي. اوسنی نظام ظالم دی، له اسلام او مسلمانانو سره قوي دښمني لري، حاکم نظام د اسلام پر وړاندې ظالمانه جګړه اعلان کړې د ه. همېشه په دې هڅه کې دي چې اسلام - هغه چې انسانان له تيارو د روښنايي پر لوري بيايي - له حکومت څخه لېرې کړي. نړۍ بايد د اوسنيو حاکمو نظامونو له شر څخه خلاصه شي او په هر ډول چې وي، له دا ډول نظامونو سره همکاري روا نه ده او لازمه ده، چې نړۍ د دا ډول نظامونو له شر څخه وژغورل شي.

**له الرايه جريدې څخه**

**ليکوال: دوکتور محمد جيلاني**

**ژباړن: حبيب الله حبيب**

**۱۴۴۱هـ.ق، د رجب ۳۰مه**

**۲۰۲۰م، د مارچ ۲۵مه**